مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي اتمه | د ۲۰۱۹ د مي ۲۹مه | دریم کال| ۳۸۲یمه گڼه

2 017550 139621

# کتاب

۴ مخ

## د جولای شپاړسمه




په ټوله کې د دغه کتاب ډېرې کیسې په لوستو ارزي، د ژوند د ځینو اړخونو په اړه تاسې ته یو ښه فهم درکوي او ربښتیني ژوند کولو ته مو راغواړي.

# د مسکو غونډه؛

## ټولو اړخونو د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او بین‌الافغاني مذاکراتو ټینگار کړی دی



د مسکو غونډه؛ ارزښت او تمې

۲ مخ


د افغان سولې وروستۍ هڅې د ګړنگ پر غاړه؛ د سولې روانې هڅې ولې ټکنۍ شوې؟

۲ مخ

د جگړو پنځم عصر او افغانستان

۳ مخ

## کرنې وزارت: څلورو ولایتونو کې د پستې ۱۴۰۰۰ نیالگي وېشو



د کرنې او مالدارۍ وزارت د بڼوالو د اقتصاد د پیاوړتیا په هدف، د شمال زون په څلورو ولایتونو کې د پستې ۱۴۰۰۰ نیالگي ویشي.

د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي پرون ازادي راډیو ته ویلي، دغه نیالگي په بلخ، سرپل، جوزجان او سمنگان ولایت کې پر بڼوالو وېشل کېږي.

نوموړي ویلي: «په تېرو دریو څلورو کلونو کې د کرنې وزارت یو پروگرام د پستې د بڼونو جوړول وو، چې په ۱۴۰ ولسوالیو کې یې نتیجه ورکړې ده. په تېره کې د پستې بڼونه په وحشي ډول موجود وو، خو اوس دغه وزارت د پستې په بڼونو کار پیل کړی او نتیجه یې هم ورکړې ده».

د ښاغلي رستمي په خبره، د کرنې او مالدارۍ وزارت تر اوسه په ۲۹ زره جریبه ځمکه کې د پستې بڼونه جوړ کړي، چې لس زره جریبه یې د هېواد په شمال کې دي.

## کډوالو چارو وزارت: روان میلادي کال له دریو لکو زیات کسان بې ځایه شوي دي

د کډوالو چارو وزیر ویلي، په ۲۰۱۹ ز کال کې د بې ځایه شویو شمېر ۳۱۸۵۹۱ تنو ته رسېږي، چې ۵۷۰۵۷ تنه یې بېرته خپلو اصلي مېنو ته ستانه شوي دي.

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو اجرایوي کمېټې تېره ورځ خپله ناسته د اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ په سپېدار ماڼۍ کې وکړه او په دې ناسته کې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر سیدحسین عالمي بلخي د تېرې غونډې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل، په ۲۰۱۹ ز کال کې د بې ځایه شویو شمېر ۳۱۸۵۹۱ تنو ته رسېږي، چې له دې څخه یوازې ۵۷۰۵۷ تنه یې بېرته خپلو اصلي مېنو ته ستانه شوي دي.

نوموړي زیاته کړې، د جگړو له امله له ننگرهار، فاریاب، هلمند، فراه، تخار، کندوز او بلخ ولایتونو څخه په ۲۰۱۹ ز کال کې ۳۶۳۰۹ تنه له خپلو اصلي مېنو بې ځایه شوي، چې په دومره موده کې ٦٩٦٨ کورنۍ بېرته خپلو مېنو ته ور گرځېدلې دي. د هغه په خبره، له دې جملې څخه له ۹۲۵۷ کورنیو سره نړیوالو ټولنو مرستې کړې دي. بلخي ویلي، په هرات او بادغیس ولایتونو کې بې ځایه شویو کورنیو ته د رسېدنې او ورسره د مرستو لپاره ۱٤۰ میلیونه افغانۍ وړاندیز شوې دي، څو د هغوی ستونزې راکمې کړي او بېرته خپلو اصلي مېنو ته وگرځي. هغه زیاته کړې، هغه کورنۍ چې بېرته خپلو اصلي مېنو ته ستنېږي، د مالیې وزارت له خوا د لارې د ټرانسپورټ او نغدې پیسې د لومړنیو اړتیاوو لپاره ورکول کېږي.

## د حبیب‌الله احمدزي قضیه رارسېدلې او نوموړی دې شواهد وړاندې کړي




۲ مخ

## وزارت اطلاعات و فرهنگ:

## از تخریب منار جام جلوگیری شده‌است



منار جام ولایت غور که حدود ۸۰۰ سال قدمت تاریخی دارد، در این اواخر با تهدید تخریب مواجه شده‌است.

اما وزارت اطلاعات و فرهنگ افغانستان می گوید، جلو تخریب این منار گرفته شده و کار بازسازی آن هم در ماه جولای سال روان میلادی آغاز خواهد شد.

محمد رسول باوری معین فرهنگی این وزارت دیروز در این مورد به خبرنگاران در کابل گفته است: «چیزی را که ما پلان کرده‌ایم این‌است که برای بازسازی اساسی این منار کار در ماه جولای آغاز خواهد شد برای این کار دو میلیون دالر توسط اداره یونسکو پذیرفته شده است، بودجه باقی را دولت افغانستان خواهد پرداخت این منار در مدت سه سال بازسازی خواهد شد».

در این اواخر سرازیر شدن سیلاب‌ها در ولایت غور سبب تخریب دیوار استنادی منار جام گردیده است.

این منار در سال ۲۰۰۲ میلادی از سوی سازمان علمی و فرهنگی ملل متحد (یونسکو) ثبت فهرست میراث‌های فرهنگی جهان شد.

با این همه برخی از آگاهان امور فرهنگی می گویند، اگر برای بازسازی اساسی منار جام اقدام نشود، امکان فروریختن آن وجود دارد.

پیش از این مقام‌های محلی ولایت غور خواهان اقدام اساسی حکومت مرکزی و سازمان یونسکو برای بازسازی و حفاظت این منار تاریخی شده بود.

Shigal English Academy



Easy English learning

+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### د مسکو غونډه؛ ارزښت او تمې

د افغانستان او روسيې د اړیکو د سلمې کليزې په پلمه مسکو ته وربلل شوو طالب استازو او افغان سیاستوالو سره لیدلي دي. دوی د لومړی ورځې په خبرو کې د یو بل پر منلو او افغان شخړې پر سیاسي حل ټینګار کړی دی. دواړو اړخونو د اشغال د خاتمې او د افغانانو پر یووالي ټینګار کړی دی. که څه هم افغان سیاستوالو او طالبانو تر دې پخوا هم په مسکو کې سره لیدلي وو او مثبتې خبرې یې کړې وې، خو دا ځل غونډې ته د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملا غني برادر هم ورغلی دی. دا لومړی ځل دی چې ملا برادر د سولې د خبرو لپاره له قطر څخه بهر وځي او په رسنیو کې را ښکاره کېږي. تمه ده چې د طالب استازو او افغان سیاستوالو ترمنځ به د څلورمې ورځې خبرې له لا زیاتې مثبتې روحیې ډکې وي.
دې غونډې ته له دې اړخه هم د اهمیت په سترګه کتل کېږي، چې تر دې وړاندې د قطر کېدونکې بین‌الافغاني غونډه د حکومت د اعلان شوې لېست او د امریکا د چل او فریب له امله لغوه شوې وه. له وړاندې هڅې روانې وې چې بېرته ژر بین‌الافغاني ناسته وشي. که څه هم دا ناسته په هغه ډول نه ده چې ټاکل شوې وه په قطر کې وشي، خو بیا هم مهم سیاستوال او طالبان سره مخ کېږي او د افغان سولې په اړه خبرې کوي. د دغو خبرو اهمیت له دې اړخه هم مهم دی چې دواړه اړخونه په یوه پیاوړي هېواد کې سره کښېني، کوم چې د افغان سولې په پروسه کې د مثبت رول لوبولو هڅه کوي. دا مثبت رول به د دې لپاره نه وي چې هغوی له افغانانو سره مینه او یا کوم بل تړاو لري، بلکې په افغانستان کې جګړه خپلو ګټو ته خطر ګڼي او غواړي دغه هېواد ته سوله او ثبات را وګرځي. په دې غونډه کې د امریکا توافق هم شرط دی، ځکه چې که د امریکا توافق نه وی، سخته وه چې یا له کابل څخه سیاستوال دې غونډې ته ورغلي وی او یا هم له قطر څخه طالبان. له کابل څخه په ورغلو سیاستوالو کې داسې کسان شته چې د امریکا له خوښې پرته ګام نه اخلي، نو ځکه په دې غونډه کې د امریکا توافق ښکاري. همداسې که امریکا د دې غونډې مخالفت کولی، نو طالب استازو ته به یې له قطر څخه د ورتګ اجازه نه وی ورکړې.
اوس د دې موقع ده چې بین‌الافغاني خبرې لا زیاتې شي. د مسکو دا غونډه باید په قطر یا بل هېواد کې پراخې بین‌الافغاني غونډې ته زمینه برابره کړي. څومره چې افغانان یو له بل سره ویني، همدومره فاصلې کمېږي، له زړونو نفرتونه وځي او د یو بل منلو روحیه پیاوړې کېږي. له همدې امله د مسکو د غونډې هرکلی پکار دی. ځیني کسان به په دې خاطر د دې غونډې مخالفت کوي، چې په مسکو کې شوې ده. دا به ډېر ښه حالت وی چې که په افغانستان کې د داسې غونډو امکان وی، خو د اوس لپاره دا چاره ستونزمنه ده، نو ځکه په هر ځای کې چې افغانان کښېني او مثبتې خبرې کوي، پکار ده چې ملاتړ یې وشي.




# د افغان سولې وروستۍ هڅې د ګړنګ پر غاړه؛ د سولې روانې هڅې ولې ټکنۍ شوې؟

لیکنه: سید خالد سادات

له علمي نظره عموماً د سولې او مذاکراتو په لړۍ کې د جګړې بیلانس کمزوری کېږي او په مقابل کې د سولې هڅې ګړندۍ کېږي. د سولې او جګړې بیلانس همدې ته وايي. کله چې د جګړې ځای سوله نیسي او بشري تعاملات د خبرو اترو ځای نیسي، نو جګړه باید کمزورې شي او یا هم صفر ته تقرب وکړي. له بل اړخه د انساني فطرت له اړخه هم کله چې د سولې خبرې مخته درومي، د ټولنو جګړه ځپلي خلک خپل ټول ذهنیت د سولې هڅو ته سوق کوي، څو د سولې خبرو ته مشروعیت ورکړي. درېیم اصل دا دی چې د جګړه مارو ډلو او ټپلو د بیا ادغام Reintegration مسئله ده چې په ټولنه کې د وسله والو ګروپونو او حلقو د هضم موضوع ده. د سولې خبرو کې جګړه مارې ډلې کوښښ کوي، څو د سولې خبرو مقابل کې د جګړې وزن او کیفیت کم کړي، څو په ټولنه کې د بیا ادغام او یا همدارنګه له ټولنې سره د یووالي په منظور د عامو خلکو له ذهنیت سره موازي حرکت وکړي.
د امریکا متحده ایالاتو او د طالبانو تحریک ترمنځ د خبرو لړۍ اووم پړاو ته ورسېده. د شپږم پړاو په ختمېدو سره دواړه لوري د مثبتو نتیجو او بین‌الافغاني مذاکراتو چوکاټ په رامنځ ته کېدو هېڅ نه وايي. امریکا او طالبانو دواړو تر شپږو میاشتو زیاته موده په قطر کې د بندو دروازو تر شا خبرې وکړې. د پنځم پړاو خبرې آن تر شپاړسو ورځو هم زیاتې شوې او له دوو اونیو وروسته پنځم پړاو خبرې پای ته ورسېدې. تر اوسه د جګړې د ختمېدو لپاره هېڅ عملي اقدام نه دی ترسره شوی، چې ګویا امریکا او طالبان دواړه په دې سره سلا شوي وي، څو جګړې ته په بشپړ ډول د خاتمې نقطه کېږدي. تر دې دمه دواړه لوري د غوڅ پرمختګ خبره نه شي کولای، چې د جګړې لوری د تضعیف مسیر ته سوق کړي. دا چې د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مرکچیانو تر منځ د سولې خبرې د یو مبهم محور پر لور درومي، په تفصیل سره یې څېړو.
د ۲۰۱۸ ز کال په وروستیو کې د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ پنټاګون کې د افغانستان د جګړې له نظامیانو سره ځانګړې ناسته کې دا خبره کره او جوته کړه، چې د افغانستان جګړه نوره د امریکا خلکو ته د منلو وړ نه ده او پر همدې موخه یې له طالبانو سره د سولې اړوند خبرو لپاره د افغانستان په چارو کې افغاني‌الاصله امریکایی ډیپلوماټ او د افغانستان د جګړې مخکښې څېرې زلمي خلیلزاد ته دنده وسپارله، څو د افغانستان د جګړې د ختمولو مسئله پر غاړه واخلي. له هماغې ورځې امریکایانو طالبانو ته د یو دولتي پروتوکول په ورکولو سره د افغانستان د جګړې د خاتمې موضوع په چوکاټ کې خورا سطحي عمل وکړ. امریکایانو فکر کاوه چې له طالبانو سره د خبرو اترو لړۍ ممکن تر دوو یا درېیو میاشتو ونه غزېږي. امریکا له طالبانو سره د خبرو لپاره افغان لوری او په ځانګړي ډول د دولت موجودیت په بشپړ ډول نفي کړ. په مقابل کې یې طالبانو ته زیات امتیازات ورکړل، دا هغه څه وو او دې چې نن یې د بدۍ ثمره ګورو. د افغانستان خلک او نړۍ طالبان تر اوسه د یوې جګړه‌ییزې کتلې تر عنوان لاندې حرکت پېژني؛ خو امریکایانو د پوره دقت په نه کارولو سره طالبانو ته د یو دولت حیثیت ورکړ. په داسې حال کې چې د دولت حیثیتي خبرو State Practice لپاره باید افغان دولت د یو اصلي طرف په توګه د خبرو خبره ګرځېدلې وای.
دویمه موضوع د امریکا او طالبانو د خبرو په درشل کې، له افغان حکومت سره د تقابل رامنځته کېدل وه. امریکا کوښښ کاوه څو د طالبانو پر هره غوښتنه بحث وکړي، چې په ځانګړي ډول د موقت حکومت رامنځته کېدل او د ولسمشرۍ ټاکنو ځنډول یې تر ټولو مهم وو. خو دا په ټوله معنی د امریکایانو ستره تېروتنه وه، چې ویې کړه او بالاخره تر شپږو میاشتو وروسته ښاغلی خلیلزاد پر دې پوه شو، چې د موقت حکومت بحثونه او د افغان دولت پر نوي تشکیل بحثونه د سولې روانې خبرې په ټپه درولی شي. ټاکنې د سولې له مسئلې سره تړل ستره تېروتنه ګڼل کېدای شي. دا کار د امریکا متحده ایالاتو د طالبانو په خوښه کاوه، چې ونه شو او اوس یې بدې اغېزې د سولې پر خبرو له ورایه ګورو.
د سولې د خبرو د ټکني کېدو بل علت پر جګړه د طالبانو تمرکز دی. طالبانو د سولې خبرو کې امتیازات د جګړې له عینکو ګوري او په همدې پلمه یې د الفتح پسرلني عملیات پیل کړل. طالبان تر ډېره کوښښ کوي چې د جګړې له بریا دمخه، په هېڅ صورت د اوربند مسئله صورت ونه نیسي او دا هغه څه دي لکه اور اوبه چې هېڅ امکان نه لري. د طالبانو محاربوي فکر، د سولې په پرتله جګړه غوره لار بولي چې ورته رسیدل غواړي. په دې مانا چې طالبان هڅه کوي څو له افغان دولت سره قوي جګړه کې امریکایان او نړیوال قانع کړي، چې د افغان دولت پر ځای باید پر طالبانو یا د طالباني ایډیالوژۍ Talibanization پر مټ فکر وشي. دا هغه څه دي چې په عمل کې ناشوني دي. د سولې خبرو کې پر جګړه تمرکز د سولې د خبرو د ناکامۍ په مانا دي. همدارنګه له نظامي اړخه د سولې خبرو کې بریا بېرته د سولې پر خبرو د جګړو منفي اغېز پرې باسلی شي. د طالبانو د جګړې له شدت سره هممهال افغان حکومت هم د جګړې لیکې پیاوړې کړې. شپنیو عملیاتو، د ملکي خلکو پر کورونو بمبار او همدارنګه د خالد په نوم عملیاتو پیلولو په رواني لحاظ د سولې هڅې ټکنۍ کړې.
د موضوع بل اړخ د امریکایي کانګریس میناونو د انتقاد بحث دی، چې پر خلیلزاد یې تور پورې کړی چې امریکایي سناتوران له طالبانو سره د خبرو له جزیاتو محروم پاتې شوي دي. په همدې موخه زلمي خلیلزاد د امریکا کانګریس ته د بندو دروازو تر شا د افغان سولې پروسې په تړاو تیره اونۍ معلومات ورکړل. امریکایي سناتورانو تر دې دمخه بهرنیو چارو وزارت ته لیک استولی و او پکې یې غوښتي وو، چې د بهرنیو چارو وزارت باید افغان سولې پروسه په بشپړ ډول کانګریس ته واضح کړي. داسې مالومېږي چې امریکا د سولې خبرو کې د بدلون په راوستو فکر کوي او د امریکا د بدلون له وجهې د افغانستان د جګړې د خاتمې مسئله د ګړنګ پر لور درومي. همدارنګه داسې نښې نښانې هم شته چې امریکایان له طالبانو سره د خبرو له امله ناهیلي او ستړي شوي دي او د یوې مطلوبې نتیجې په نه ورکولو سره د سولې پروسې ستره صدمه لیدلې وي.

## لاوروف: نړیوال ځواکونه دې په بشپړ ډول له افغانستانه ووځي



د روسيې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف ویلي، چې نړیوال ځواکونه باید په بشپړ ډول له افغانستانه ووځي.
لاوروف تېره ورځ په مسکو کې د افغانستان او روسيې سل کلنې نمانځغونډې ته ویلي، موږ له افغانستانه د ټولو عسکرو د وتلو غږ کوو، موږ پر ټولو خواوو په افغانستان کې غږ کوو چې ډېر ژر خبرې پیل کړي، چې په هغه کې په پراخه کچه سیاسي او ټولنیز استازي شامل وي.
په مسکو کې غونډې ته د افغانستان د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون، له کابله ځینې سیاستوال او د وسله‌والو طالبانو استازي هم ورغلي دي.
وسله‌والو طالبانو په یوه بیان کې تایید کړې، چې د ملا عبدالغني برادر په مشرۍ ۱۴ کسیز پلاوی به یې له ورغلو سیاستوالو او قومي مشرانو سره د افغانستان پر راتلونکي خبرې وکړي، خو دا یې نه دي ویلي چې د افغانستان د حکومت له استازو سره به خبرې وکړي او که نه.
دا غونډه رسماً، د افغانستان او روسيې د سیاسي اړیکو د سل کلنۍ د نمانځلو په نوم جوړه شوې ده.
په غونډه کې د مسکو لپاره د افغانستان سفیر لطیف بهاند هم و، خو دا نه ده څرګنده چې د طالبانو له استازو سره به د حکومت له اړخه خبرې وکړي او که نه.
غونډې ته لاوروف ویلي، روسیه باور لري چې د افغانستان بحران پوځي حل نه لري، یوازې د سولې او ډیپلوماسۍ لاره حل ممکن کولای شي.
د روسيې د بهرنیو چارو وزیر همدا راز په افغانستان کې پر ټولو خواوو غږ کړی، چې ډېر ژر داسې خبرې پیل کړي چې پراخ سیاسي او ټولنیز استازیتوب وکړي.
مسکو ته د طالبانو استازي په داسې شرایطو کې تللي، چې په روسیه کې د وسله‌والو طالبانو حرکت تروریستي سازمان بلل کېږي.

## لویه څارنوالي: د حبیب‌الله احمدزي قضیه رارسېدلې او نوموړی دې شواهد وړاندې کړي




لویې څارنوالۍ ویلي، د حبیب‌الله احمدزي له لوري په ارګ کې د اخلاقي فساد د لګول شویو تورونو قضیه ورته رسېدلې ده.
د دې ادارې ویاند جمشید رسولي تېره ورځ په کابل کې یوې خبري ناستې ته ویلي، چې د دغې قضیې د څېړنې په موخه پلاوی ټاکل شوی او له احمدزي غوښتنه شوې چې اسناد او شواهد وړاندې کړي.
هغه زیاته کړې: «د افغانستان لویې څارنوالۍ د دې ترڅنګ چې د قضیې د څېړنې لپاره یې پلاوی ټاکلی، له ښاغلي احمدزي هم غوښتنه شوې چې د روانې اونۍ تر پنجشنبې ورځې پورې په دې اړه خپل ټول شواهد او اسناد له ټاکل شوي پلاوي سره شریک کړي، څو پلاوی وتوانېږي چې د همدغو اسنادو او شواهدو په استناد خپلې څېړنې مخ په وړاندې یوسي».
تر دې وړاندې د ولسمشرۍ ماڼۍ مرستیال ویاند صمیم عارف هم ازادي راډیو ته ویلي وو، چې یاده قضیه لویې څارنوالۍ ته استول شوې ده. دا په داسې حال کې ده چې په امنیتي چارو کې د ولسمشر غني پخواني سلاکار حبیب‌الله احمدزي په خپلو تازه څرګندونو کې په ارګ کې د اخلاقي فساد د موجودیت ادعا کړې ده. احمدزي ویلي چې په ارګ کې ځینې کسان د فحشاوو د خپرولو لپاره په سیستماتیک ډول کار کوي.
نوموړي دغه راز تور پورې کړی چې د ولسي جرګې د ټاکنو ځینې ښځینه نوماندانې چې له ۶۰۰ څخه کمې رایې یې وړې وې، د ارګ له لوري د نامشروع اړیکو له مخې ولسي جرګې ته بریالۍ شوې دي.
د ولسمشر ویاند هارون چخانسوري بیا د احمدزي دغه څرګندونې شخصي عقده بللې او غوښتنه یې کړې چې باید ثبوت یې وړاندې کړي. د ښاغلي احمدزي دغو څرګندونو په پراخه کچه غبرګونونه هم راپارولي دي. د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله هم په ارګ ماڼۍ کې د اخلاقي فساد په اړه راپورونه ټکان ورکوونکي بللي او په دې برخه کې یې پر جدي پلټنو ټینګار کړی دی.

# د جګړو پنځم عصر او افغانستان



لیکنه: مشتاق رحیم

جګړه د انساني تاریخ په اوږدو کې د خپل نوعیت او تکتیک له مخې له بیلابېلو عصرونو تېره شوې ده. د جګړې پوهان وايي چې لومړی عصر هغه و چې صف بندیانې به وشوې او د جګړې دوه اړخونه به لاس په لاس سره جنګېدل. د جګړو دویم عصر د ټوپک جګړه وه چې اړخونو به یو بل د ټوپک په مرسته په نښه کول او بارود به یې پر یو بل اورول. دریم عصر جګړه بیا د ټانکونو او الوتکو په مرسته کېدله. په دغه ډول جګړه کې به د جګړې په میدان کې له لرې په یو بل بارود اورول کېدل او جنګیالي ډېری وخت سره نه مخامخ کېدل. د پرمختللو جګړه ییزو وسایلو په مرسته په نړۍ کې دا ډول مخامخ جګړه د جګړې دریېم دور یادېږي. د جګړو څلورم عصر د سړې جګړې په اوږدو کې مروج شو. په دغه عصر کې ملتونه او د هغوی پوځونه مخامخ سره نه جنګېدل، بلکې د خپلو نیابتي ډلو یا لاس پوڅو په مرسته له یو بل سره په نیابتي جګړو بوخت شول.

د څلورم عصر د جګړو اصلي لوبغاړي امریکا او د وخت شوروي اتحاد وو. خو دغه دوه هېوادونه کله هم مخامخ یو له بل سره په جګړه کې ښکېل نه شول، بلکې د نورو هېوادونو پر ځمکه ډېری وخت د یادو هېوادونو بېلابېلو ډلو په مرسته جګړې ته ښکته شول. د دا ډول جګړو لومړۍ بېلګه په سویلي کوریا کې لیدل کېږي، چېرته چې کوریا په سویلي او شمالي برخو ووېشل شوه او د شمالي کوریا ملاتړ روس او چین د هغوی د کمونیستي تمایلاتو له کبله وکړ. بله خوا بیا د سویلي کوریا د ډلو ملاتړ غربي هېوادونو د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې وکړ. بله بېلګه بیا د ویتنام ده چې امریکا د یو اړخ او شوروي د بل اړخ ملاتړ کولو، خو په دغه جګړو کې په یو نه یو ډول امریکا او شوروي مخامخ شوي هم دي. د څلورم عصر د جګړو کلاسیکه بڼه په نیکاراګوا کې لیدل کېږي.

د نیکاراګوا په جګړه کې امریکا په لومړي سر کې د دیکتاتور اناستاسیوسموزا ملاتړ د کمونیستي افکارو درلودنکې ډلې سنډانیستایانوپه مقابل کې کاوه. د کمونېستانو پر وړاندې د نوموړي دیکتاتور له ماتې څخه وروسته، امریکایانو د کونټراس په نوم د یاغیانو ملاتړ پیل کړ ترڅو شوروي پلوي سنډانیستایان مات کړي.

د څلورم عصر د جګړو تر ټولو خونړۍ بېلګه د افغانستان جګړه ده. په ۱۹۷۹ زېږدیز کال کې شوروي اتحاد په دې پلمه چې د وخت حکومت ترې غوښتنه کړې، په افغانستان یرغل وکړ، ترڅو په سیمه کې د خپلې ایډیالوژۍ د خپراوي لپاره ساحه پراخه کړي. بلخوا بیا امریکا د عربي هېوادونو سره په ګډه د پاکستان په مرسته وسله والو ډلو سره مرستې پیل کړې ترڅو کمونیست شوروي اتحاد مات کړي.

د نوېیمې لسیزې له پای او د ۲۰۰۰ ز کلونو د پیل څخه د پوهانو په اند په نړۍ کې جګړه اوس پنځم عصر ته ننوتې ده. دغه پنځم عصر په دوو برخو وېشل کېږي چې یوې ته یې کلکه (hard) او بلې ته یې نرمه (soft) جګړه ویل کېږي. کلکه جګړه د جګړې هغه برخه ده چې د ډرون یا بې پیلوټه الوتکې او د اوږد واټن ویشتونکي توغندي پکې کارول کېږي. په دې ډول جګړه کې هېوادونه پرته له دې چې انساني ځواک وکاروي، ښکېل کېږي. دا جګړه د نړۍ په بېلابېلو برخو کې له تېرې دوه نیمې لسیزې روانه ده چې ښکاره بېلګې یې افغانستان، عراق او سوډان دي.

د دې جګړې نرمه برخه بیا سیاسي جګړه ده. د پنځم عصر د جګړې سیاسي برخه بیا په دوو برخو وېشل شوې ده. لومړۍ برخه یې د نړیوالو بلاکونو په مرسته د تهدیدونو او بندیزونو له لارې د حکومتونو مشروعیت ننګول او دې ته ورته چارې دي. په دې لړ کې د نړۍ هېوادونه په ګډه او کله هم په یوازې ځان پر خپلو مخالفو هېوادونو باندې د بندیزونو د لګولو له لارې جنګیږي. د دا ډول جګړو ښې بېلګې ایران، وینزویلا، شمالي کوریا، سوډان او ورته هېوادونه دي چې له ډېرې مودې د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو بندیزونو له کبله جدي ستونزو سره مخامخ دي.

د پنځم عصر د نرمې جګړې دویمه برخه یې په کور دننه د هېوادونو پر ضد د خپلو ملتونو درول او راپاڅول دي. په دې لړ کې مداخله کوونکي اړخونه د رسمي او ټولنیزو رسنیو څخه کار اخلي او په ولس کې ذهنیت سازي کوي ترڅو ولسونه د خپلو حکومتونو په مقابل کې را وپاروي او په دا ډول د هېوادونو سیاسي حالت په خپله ګټه را وڅرخوي. د دغه کار ژوندۍ بېلګه د عربو پسرلی و، چېرې چې د ټولنیزو رسنیو په مرسته پیاوړي حکومتونه او نظامونه وننګول شول. هیلري کلېنټن په خپل کتاب ننګوونکي انتخابونه (hard choices) کې په ختیځو اروپایي هېوادونو کې د ټولنیزو رسنیو د کارونې له لارې د لاسوهنې په اړه معلومات وړاندې کوي چې څنګه به دوی د ټوېټر کاروونکو سره کار کولو او چې کله دغه خلکو ته ستونزې پیدا شوې، نو دغه لاسپوڅي د امریکایانو له خوا وژغورل شول.

دا چې افغانستان دا اوس د نړۍ د استخباراتي جګړو مرکز ګرځېدلی، د سیمې او د نړۍ د هېوادونو ګټې دلته نغښتې دي، دا اوس په افغانستان کې د څلورم او پنځم عصر جګړې هممهاله روانې دي. دا ډول جګړې ته مختلطه (Hybrid) جګړه وايي چې پکې د بېلابېلو عصرونو تکتیکونه په یو وخت کې کارول کېږي. خو بله خوا د افغانستان د حکومت چمتووالی د دغه جګړو په مقابل کې د پوښتنې وړ دی. که څه هم د نیابتي جګړې په برخه کې شاید حکومت بېداره وي او حد اقل که مخنیوی یې نه شي کولای، پوهېږي چې څه روان دي، خو د پنځم عصر د جګړې په نرم اړخ کې لیدل کېږي چې هېڅ کار نه دی شوی. په داسې یوه ټولنه کې چې د لوست کچه پکې ډېره ټیټه او د څېړنې وړتیا یې له نشت سره برابر ده، ټولنیزې او اصلي رسنۍ د دغه ډول جګړو لپاره د ښو آلو په توګه کارول کېږي. اړتیا لیدل کېږي چې افغانان په ټوله کې د عصري جګړو وروستیو دوو بڼو په اړه ټولنیزه پوهه لوړه کړي ترڅو که په دغه جګړو کې که برلاسي نه شي، نو په اسانه یې ښکار هم نه شي.

# د مسکو غونډه؛

## ټولو اړخونو د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او بین‌الافغاني مذاکراتو ټینګار کړی دی



د افغان سولې په اړه د هلو ځلو په لړ کې دا دویم ځل دی چې په مسکو کې غونډه جوړېږي. پرون د افغانستان او روسیې د ډیپلوماټیکو اړیکو سلمه کلیزه ونمانځل شوه. په همدې مناسبت په مسکو کې یو غونډه جوړه شوې وه، چې لومړی پکې د افغانستان-روسیې پر سل کلونو ډیپلوماټیکو اړیکو خبرې وشوې او بیا پر افغان سوله بحثونه وشول.

په دې غونډه کې د افغان سیاسیونو او حکومتي چارواکو یوه پلاوي د پخواني ولسمشر حامد کرزي په مشرۍ ګډون کړی و. د وسله والو طالبانو د یوه څوارلس کسیز پلاوي مشري بیا د قطر دفتر مشر او د طالبانو د تحریک سیاسي مرستیال ملا برادر کوله.

په دې غونډه کې تر ډېره د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او په افغانستان کې د روانې جګړې پر ختمولو خبرې وشولې. وسله والو طالبانو ټینګار کاوه، چې دوی سولې ته ژمن دي، خو د دوی په خبره، لومړی باید د افغانستان (اشغال) پای ته ورسېږي. د طالبانو د قطر دفتر مشر ملا برادر افغانستان د امریکایي او نورو بهرنیو ځواکونو له لوري اشغال شوی وباله او په وینا یې لومړی دې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي، نو وروسته به دوی د سولې خبرو ته ادامه ورکوي. ملا برادر دغه راز په خپلو خبرو کې پر دې هم ټینګار وکړ، چې لومړی باید د سولې په لار کې شته خنډونه له منځه یوړل شي.

په دغه غونډه کې پخواني ولسمشر حامد کرزي، د سولې عالي شورا رییس کریم خلیلي، د جمعیت ګوند اجرایي رییس عطامحمد نور، د ولسمشریزو ټاکنو نوماند حنیف اتمر او په مسکو کې افغان سفیر لطیف بهاند ویناوې وکړې. دوی د افغانستان او روسیې د اړیکو پر ارزښت خبرې وکړې او هغه یې خورا مهمې وبللې.

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم په دغه کنفرانس کې د خبرو پر مهال وویل، چې افغان جګړه یوازې د سیاسي مذاکراتو له لارې د حل وړ ده او جګړې د هېچا په ګټه نه دي. د ښاغلي کرزي په خبره، که د سولې هڅې یوې پایلې ته ورسېږي، نو له افغانستانه به د سیمې په ګډون د نړۍ هېڅ هېواد ته هم خطر متوجه نه شي. هغه د سولې په برخه کې د روسیې له رول څخه هم مننه کړې ده او هیله یې څرګنده کړې چې مثبتې پایلې به ولري.

بل پلو د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاوروف بیا ویلي چې ټول بهرني ځواکونه باید له افغانستانه ووځي. د نوموړي په خبره، د دې اړتیا ده چې په افغانستان کې روانه جګړه ختمه کړل شي او د دې جګړې د ختمولو لپاره باید بین‌الافغاني مذاکرات پیل شي او بهرني ځواکونه دې له افغانستانه ووځي. هغه همدا راز وویل چې د افغانستان د دایمي ثبات او سولې لپاره باید ټول افغاني اړخونه ژر تر ژره په خپلو کې سره کېني او په خپلو کې دې سوله وکړي.

لاوروف ویلي، باوري دی چې د افغانستان جګړه یوازې او یوازې د مذاکراتو پر مټ د حل وړ ده او هېڅ راز نظامي حللاره دغه جګړه پای ته نه شي رسولی.

بل پلو د وسله والو طالبانو استازي مولوي امیر خان متقي بیا وویل، چې دوی د سولې غوښتونکي دي او له ټولو ګاونډیو هېوادونو سره به ښې اړیکې پالي. د نوموړي په خبره، له افغانستانه هېچا ته زیان نه رسوي او له ټولو سره به د ښو اړیکو په جوړولو کې هڅه کوي.

افغان حکومت بیا وايي چې د روسیې او مسکو د ډیپلوماټیکو اړیکو په سلمه کلیزه کې یې د بهرنیو چارو وزارت په استازیتوب افغان سفیر لطیف بهاند او د سولې عالي شورا په استازیتوب کریم خلیلي ګډون کړی دی. دغه سفر او غونډه په ټولنیزو رسنیو کې هم له بېلابېلو غبرګونونو سره مخ شوې ده.

# د برازیل په زندانونو کې د بندیانو ترمنځ په نښتو کې ۴۲ کسان وژل شوي دي



برازیلي چارواکو ویلي، د دغه هېواد د امازون ولایت په څلورو زندانونو کې، د زندانیانو ترمنځ په شخړو کې لږ تر لږه ۴۰ بندیان وژل شوي دي.

چارواکو ویلي، دا پېښه د یاد ولایت په یوه زندان کې د څو ډلو ترمنځ په نښتو کې د ۱۵ بندیانو تر وژل کېدو یوه ورځ وروسته شوې ده.

د چارواکو په خبره، دوی ۴۲ زندانیان په داسې حال کې موندلي، چې راځوړند شوي وو، خو ځینو چارواکو ویلي، ډېری بندیان د فضا د تنګېدو له کبله مړه شوي دي.

د بندیانو ترمنځ دغه نښتې د یکشنبې په سهار پیل شوې، چې په لومړۍ ورځ پکې لږ تر لږه ۱۵ بندیان وژل شوي وو، ځینې په چړو وهل شوي وو، خو وروسته بیا معلومه شوه چې ځینې بندیان راځړول شوي هم دي.

بلخوا د دغو زندانونو ادارو ویلي چې د زندانیانو ترمنځ نښتې یې مهار کړې او د لاملونو په اړه یې څېړنه پیل شوې ده.

د یوه بندي مور چې د خپل زوی د لیدو لپاره زندان ته تللې وه، ویلي: «هلته وضعیت بشپړ ګډوډ و، ټولو ورونه ټکول او شاوخوا یې منډې وهلې».

د یادونې ده چې په یاد زندان کې دوه کاله مخکې هم پاڅون وشو، چې بیا پر تاوتریخوالي واوښت او په پایله کې یې ۵۶ کسان ووژل شول.

د رسمي شمېرو له مخې، په برازیل کې د بندیانو شمېر تر ۷۱۲ زرو اوړي او دغه هېواد د ډېرو بندیانو لرلو له پلوه په نړۍ کې دریېم هېواد دی.

د دغه هېواد په زندانونو کې ډېری وخت د بندیانو د ساتلو لپاره د زندان خونې کفایت نه کوي او له همدې کبله د زندان د ننه د ځینو ډلو ترمنځ اخ او ډب او یا ان د وژنې پېښې هم رامنځته کېږي.

د یادونې ده چې په ۱۹۹۲ ز کال کې د دغه هېواد په ساو پاولو کاراندیرو زندان کې له اورپکو سره د جګړې پر مهال ۱۱۱ بندیان ووژل شول، چې ډېری یې د پولیسو لخوا په ډزو کې وژل شوي وو.

# د جولای شپاړسمه

اکسوس کتابپلورنځی

د (د جولای شپاړسمه) کتاب د پښتو ژبې د داستاني ادبیاتو د وتلي او په دې برخه کې تر دغه کتاب د مخه د چاپ په ښه د څو نورو ټولګو د لیکوال، ایمل پسرلي تازه چاپ شوی اثر دی.

د جولای شپاړسمه د ایمل پسرلي د لنډو کیسو ټولګه ده، چې له دې مخکې یې (ده کیسه کوله) هم د چاپ په ښه د لوستونکو تر لاسونو رسېدلې وه. د ایمل پسرلي کیسې تر ډېره دځېرو رواني اړخونه را اخلي، جملې یې لنډې او د هغه چاپېریال دي، چې لیکوال ورغلی پا په کې اوسېږي.

په داستاني ادبیاتو کې د داستان لیکلو یو اصل هم همدا دی، چې داستان باید تر ډېره خیالي نه وي، څومره چې د داستان موضوع حقیقت ته نږدې کېږي، هومره یې خوند هم زیاتېږي او لوستونکي تر اخره له ځان سره بېولی شي. که لیکوال د لوستونکي په څپلولو ونه توانېد، فکر دې نه کوي چې لیکنه به یې د دوه کسان هم ولولي. په دغه ټولګه کې دې اصل ته پوره پام شوی دی.

همدغه کتاب کې یو ځای د (مین لیک) په نوم په یوه کیسه کې راځي: «کنډوالې ته ورسېدم، په خاورین دیوال کې یې اوس دروازه نه وه، دننه ونې ماتې شوې وې، تر یوې ډېرې لاندې مې کاغذ ولید، یو څنډه یې شمال ښوروله، ډېره مې پورته کړه، کاغذ نیم پرې و، یوه څنډه یې د اور لوګي ژېړه او بله یې توره کړې وه، ور لاندې په کاغذ لیکلي وو...»

تاسې پاس صحنه کې له ځان سره د لوستونکي ساتل وګورئ، چې لیکوال په څومره هنر سره هغه پرته له دې چې یا یې له کیسې زړه مات شي او یا یې هم د زړه په زور ولولي، خپله لوستونکی دېته لېواله وي، چې وروسته څه کېږي، خدایه په دغه کې کور به څه شوي وي، ولې یې دروازه نه وه، او هو په کاغذ کې به څه لیکل شوي وي، اف اور لېګېدلی، چې دا به چا اچولی وي، ولې یې اچولی دی.... دې او دېته ډېرې نورې هغه پوښتنې دي چې لوستونکی یې د ځواب پیدا کولو په موخه کیسه تر اخره لولي.

کیسه او داستان باید یوازې د لوستونکي وخت ضایع نه کړي، بلکې هغه له لوستو وروسته فکر کولو او له هغه د یو ټکي زده کړې ته هم وهڅوي. دغه ټولګه همدا ښه ځانګړنه لري، له هرې کیسې وروسته لوستونکي ته یو فکر پیدا کېږي، چې دا ډول کړنه ښه ده او که بده، که یې زه وکړم یا ورسره مخ شم، زیان او ښېګڼه به یې راته څومره وي. د (حساب) په نوم یوه کیسه کې د خاوند او مېرمنې ترمنځ مکالمه یې ډېره ښه ده، مېرمن خاوند ته وایي، څلوېښت کلن یې او کېدای شي څلوېښت کاله نور هم ژوندی وې، په هغه کې به څه کوې، فیلمونه به ګورې، کتابونه به لولې، چکرونه به وهې او که بل څه؟

دا خبرې رښتیا هم سړی د راتلونکي په اړه فکر کولو ته هڅوي، چې زه به څه کوم، څه غواړم، کوم ځای ته باید ورسېږم. د راتلونکي په اړه دا فکر کول ډېر اړین دي، که یې ونه کړی، هسې به ژوند کوی چې نه به کومه مانا لري او نه هم کوم ارزښت.

په ټوله کې د دغه کتاب ډېرې کیسې په لوستو ارزي، د ژوند د ځینو اړخونو په اړه تاسې ته یو ښه فهم درکوي او رښتیني ژوند کولو ته مو راغواړي.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت ترلاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د جغرافېې مبادي توکي | فضل حبیب هنر | ۱۰۰؋ |
| ۲ | انسان 2020 | سعید محمدی محمد پیام بهرام پور | ۱۶۰؋ |
| ۳ | د ښاروي حلالولو مسایل | مغتي محمد تقی عثمانی | ۸۰؋ |
| ٤ | غوره مرغلرې | پهنمل محمود نظري | ۱۵۰؋ |
| ٥ | د نړۍ نېکمرغه ښځه | دوکتور عایض القرني | ۱۸۰؋ |
| ٦ | فراتر از راز | دکتر لیزالاو | ۱۰۰؋ |
| ۷ | عمومي معلومات(دوه ټوکه) | یورګ پیلاوه | ۳۰۰؋ |
| ۸ | د پند او عبرت قصې | ډاګټر نثار احمد صمد واصفي | ۱۵۰؋ |
| ۹ | روح مو تازه کړئ(په زړه پورې او هڅوونکې کیسې) | جک کنفیلډ او مارک ویکټور هنسن | ۱۳۰؋ |
| ۱۰ | طالبان و عقلانیت سیاسی | لعل محمد دور اندیش | ۱۵۰؋ |
| ۱۱ | کـــافـــر جانان(شعري ټولګه) | محمد ګل منصور | ۱۰۰؋ |
| ۱۲ | روڼ حقیقت(د شعر او ادب په هینداره کې) | معلم امانت تیموري | ۱۳۰؋ |
| ۱۳ | روژه احکام، فضایل او مسایل یې | مولوي عبدالحق حماد | ۱۵۰؋ |
| ۱٤ | اسلامي او سیاسي اندونه | مفتي محمد تقي عثماني | ۱۸۰؋ |
| ۱٥ | احکام، مسایل و فضایل روزه | مولوي عبدالحق حماد | ۶۰؋ |
| ۱۶ | ژورنالېستي بحثونه | عبدالرقیب‌ساحل | ۱۰۰؋ |
| ۱۷ | اصول استاتیک | پوهنیار انجنیر اجمل وردګ | ۴۰۰؋ |
| ۱۸ | دجـــولای‌شپـــاړسمه | ایمل پسرلی | ۱۰۰؋ |
| ۱۹ | بریالي خلک څنګه وده کوي | جان مکسوېل | ۱۵۰؋ |
| ۲۰ | اخلاقي کنایې | نثاراحمد صمد واصفي | ۱۵۰؋ |
| ۲۱ | ولې پناه شوې ته زما له سترګو؟(نـــاول) | ګل رحمن رحماني | ۶۰؋ |
| ۲۲ | سترې هیلې(ناول) | چارلز ډیکنز | ۱۲۰؋ |
| ۲۳ | چې لاس د نه راکاوه(شعري ټولګه) | شفیقه خپلواک | ۱۰۰؋ |
| ۲٤ | جمال الفرقان | قاري نور الله عزام | ۷۰؋ |
| ۲٥ | The 5 Love Languages | Gray Chapman | ۱۵۰؋ |
| ۲۶ | The Subtle Art of Not Giving A FucK | mark Manson | ۱۵۰؋ |
| ۲۷ | The Compound Effect | Darren Hardy | ۱۴۰؋ |
| ۲۸ | Who Was Steve Jobs? | pam pollack and meg belviso | ۸۰؋ |
| ۲۹ | Who Was Muhammad Ali? | james buckley jr. | ۸۰؋ |
| ۳۰ | Where is the White house? | megan stine and David groff | ۸۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډیویډ شوارتز
ژباړن: میراحمد یاد

### یوولسم څپرکی
### «ماته» څنګه «بری» کړو؟




بیا یې په خندا زیاته کړه: (په دې خاطر لومړنی ناسمې پانګونې په دې کار کې د خپلو زده کړو په حساب کې جمع کوم.)

بل خوا بیا داسې کسان هم پېژنم چې په یو دوو وړو پانګونو یې زړونه مات شوي او بدبینه شوي دي. دوی خپلې تېروتنې نه تحلیلوي، له موضوع سم برداشت نه لري او بلاخره دې ناسمې پایلې ته رسېږي چې په عادي ونډو پانګونه جواري ده او جواري که نن نه وي سبا بایلل کېږي.

سر له ننه پرېکړه وکړئ، چې که په لاره کې درته هر خنډ پیدا کېږي تاسې به ترې ګټه اخلئ. دا ځل چې له کومې ستونزې سره مخ شوئ، نو پر خپل ذهن او اعصابو برلاسي شئ او هڅه وکړئ چې د دې کار لامل پیدا کړئ. په دې توګه د نویو تېروتنو مخه نیولای شئ.

موږ انسانان عجب مخلوق یو. ډېر زر د خپلو بریاوو بشپړ اعتبار غواړو. څنګه چې بریالي شو، غواړو چې شور جوړ کړو او ټوله دنیا خبره کړو. زموږ دا خوښېږي چې خلک مو یو بل ته وښیي او ورته ووایي: (دا پېژنې؟ هغه فلانی دی کنه، فلانی کار یې چې کړی و.)

د دې تر څنګ مو بل عادت دا دی چې په وړو ستونزو او خنډونو نور خلک ملامتوو. خرڅلاو چې کم شي پلورونکي عموماً پېرودونکي ملامتوي. کار چې وران شي مدیران عموماً واړه کارکوونکي ملامتوي. په کورنیو شخړو کې ښځې مېړونه او مېړونه ښځې ملامتوي.

په دې لیونۍ نړۍ کې به ډېر خلک موږ ته زیان را رسوي، خو زیاتره وخت موږ خپله ماتې خورو. زموږ زیاتره ماتې زموږ د بې کفایتۍ یا تېروتنو له امله وي.

په دې طریقه نوي خویونه او عادتونه خپلولای شئ. له ځان سره ووایئ چې ځان به خپل مطلوب انساني کمال ته رسوئ. رښتیني اوسئ. ځان ته د دربیمګړي له نظره وګورئ، ځان وازمایئ. وګورئ داسې ضعف لرئ چې تر دې مخکې مو نه دی ورپام شوی؟ که ضعف وي د اصلاح هڅه یې وکړئ. زیاتره خلک ځان سره دومره عادت شي چې بیا په ځان کې د ضعف لیدلو او اصلاح وړتیا هم نه لري.

د مېټروپولیټین اوپرا مشهورې ستورې (رایس سټیفین) په ریډر ډایجسټ مجله کې ویلي چې د ژوند په ترخو شېبو کې یې ډېر ښه نصیحت ترلاسه کړی دی.

نوموړې چې هنري فعالیتونه پیل کړل، د مېټروپولیټین اوپرا د ستورو معرفي کولو په لړۍ کې بریالۍ نه شوه او دې ماتې سخته خپه او نهیلې کړه.

د ځان په اړه وایي: (ما ویل ټول خلک به ووایي چې زما غږ تر ټولو نجونو خوږ او ښکلی دی، وبه وایي چې د دې په اړه ورکړې رایه ناسمه وه او زه له دې امله رد شوې یم، چې واسطه نه لرمه.)

خو د دې روزونکې هېڅ ډول دلاسینه ور نه کړه، د دلاسینې پر ځای یې ورته وویل: (ګرانې! له خپلو ضعفونو سره د مخ کېدو زړه پیدا کړه.)

دا هنري ستورې وایي: (زما پر ځان زړه خوږېده، خو دا خبرې به چې را یادې شوې، نو تر سهاره به یې وېښه ساتلم، تر دې چې یوه ورځ رښتیا هم له خپلو ضعفونو سره مخ شوم. په هغه شپه چې پرته وم، ځان ته مې وویل: ولې مې و نه ګټله؟ څنګه به یې وګټم؟ پوهه شوم چې زما غږ لا بشپړ نه دی، بهرنۍ ژبې او ډېر نقشونه مې یاید زده کړي وی)

نوموړې وایي: پر خپلو ضعفونو پوهېدلو نه یوازې بری راکړ، بلکې ډېر زیات ملګري او مینه وال یې هم راکړل.

ځان نقدول او ارزول ښه اغېز لري. دا انسان ته د بري وړتیا او قوت ورکوي. نور خلک ملامت ګڼل ښه نه دي. بل څوک (ملامتول) تاسې ته هېڅ ګټه نه لري.

نو ځان سم نقد کړئ، ځان وارزوئ. له خپلو کمزوریو او بې کفایتیو مه تښتئ، لوړ معیارونه وټاکئ، د بریالیو خلکو غوندې خپل ضعفونه ولټوئ او بیا یې اصلاح کړئ. بری په همدې کار کې دی.

خو خپل ضعفونه د دې لپاره مه پیدا کوئ چې بیا ووایئ : (دا مې د ماتې بل دلیل و.) اپوټه خپلو تېروتنو او نیمګړتیاو ته له دې زاویې وګورئ چې: (دا هم زما د اصلاح یوه بله لاره ده او لوی بري ته مې رسولای شي.)

البرټ هوبارډ به ویل: (مات شوی انسان هغه دی چې لویې تېروتنې یې کړې وي، خو هېڅ یې نه وي ترې زده کړي.)

موږ زیاتره وخت ماتې خپله بدمرغي ګڼو، وایو چې: (بس د قسمت چارې دي نو ... څه به وکړو.) خو تاسې یوه شېبه فکر وکړئ، دا بخت دومره ګونګ شی هم نه دی چې په نامعلوم علت به معلومې پایلې درکوي.

ښه تاسې فکر وکړئ که الوتکه ولوېږئ او هوایي اداره د خپلو څېړنو اعلان داسې وکړي: (موږ پر دې پېښه ډېر خپه یو ... خو د قسمت کارونه دي نو ... څه به ووایو.)

دې وخت کې به تاسې خپله ووایئ چې دا څه رقم خلک دي. یا که یو ډاکټر ستاسې یوه خپلوان ته ووایي: (زه ښښنه غواړم، هېڅ نه پوهېږم چې څه شوي، خو د قسمت کار دی نو...)

دا د قسمت او پېښې خبره موږ ته هېڅ نه را زده کوي او موږ بل ځل داسې حالت سره د مخ کېدو لپاره هېڅ ترې نه شو زده کولای. که د کرکټ روزونکی له ماتې وروسته خپلې لوبډلې ته ووایي: (ښه نو، خیر دا به مو قسمت کې وه.) دا خبره یې لوبډلې سره هېڅ مرسته نه کوي او هغه تېروتنې نه ورښیي چې په راتلونکو لوبو کې یې باید و نه کړي. **دوام لري...**

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۲۵ |
| € | ۸۸,۵۰ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۱۲۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۹۹,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیري

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# علمي څېړنه؛ د ژوند خوشاله ملگری/ملگرې لرل مو عمر ډېروي!

ژباړه: آلماء افغان

د پوهانو نوي مطالعې دا په ښبه کوي چې د يو ښه او خوشاله د ژوند ملگري درلودل د ناروغيو، رواني او د زړه د ناروغيو درجه کموي او د عمر پر زياتوالي تاثير لري.

مختلفې پلټنې د تفکيکي رضامندی اړوند چې د عمر په اوږدوالي کې ترسره شوې دي، دا را په گوته کوي چې هغه خلک چې له خپله ژونده راضي دي، نسبت هغوی ته چې له ژونده ناراضه دي، کم پر ناروغيو اخته کېږي او عمر يې هم اوږدېږي.

اُلکا استروا د هالنډ تيلبورخ پوهنتون يو تن پلټونکي د خوشاله جوړې او د عمر د اوږدېدو مسئله بررسي کړې ده او دې پايلې ته رسېدلې چې نه يوازې فردي يا ځانته رضايت؛ بلکې مشترک او ټولنيز رضايت هم د هر رنگ ناروغيو مخنيوی کوي او د عمرونو پر زياتوالي مؤثر اغېز لري.

دغه مطلب چې تازه په (علوم روانشناسی) مجله کې نشر شوی او په کال کې يې د ۴۳۷۴ نويو د شريکو ماشومانو مشاهده د اتو کلونو په موده کې تر سره کړې ده، دغه مشاهده دا ښايي چې د يو پيدا شوي ماشوم له ژوند څخه رضايت د بل ناراضه ماشوم له عمر سره توپير لري.

لومړی ماشوم به با قدرته او د عمر په زياتوالي يې هم اثر شته دی، د راضي کيدنې د پرتلې لپاره خلک د يوې بلې نوي نسخې، چې پوښتنې پکې وي (په ژوند کې د رضايت پرتله) له دې څخه استفاده وشوه چې خلکو اوو سوالونو ته ځوابونه ورکړل، له اوو څخه يو کم سوال ځوابول کمتري او له اوو څخه يو پورته ځواب د رضايت پرتله ښيي.

په دغه پوښتنپاڼه کې د سوالونو پرتلې سره نږدې وې، د ارماني ژوند، ټاکل شوو ارمانونو ته رسېدل او همدارنگه د کاميابه او راضي ژوند شرايط په کلي ډول دلته تشريح او مطرح شوي دي:

**۱ـ د شعريه عروق- د زړه ناروغی**

د رگونو نړديوالی او قلبي ناروغی په نړۍ کې له نويو او مهمترينو ناروغيو څخه دي، چې د مرگ لامل کېږي. يو نړېوال سازمان راپور ورکوي چې په ۲۰۱۷ ز کال کې د زړه دغه ناروغی ۵۶ میلیونه کسان وژلي دي. په دغه راپور کې ۱۷.۷ میلیونه کسان چې په سلو کې دېرش سلنه راځي، د شعريه عروق ـ زړه ناروغی له اثره يې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د دې ناروغی له ستونزو بله هغه د يو انسان په روان تاثير کول دي، چې بيا د يو انسان ژوند ته سزا ورکوي او ورته لوی خطر دی.

د يو نړيوال سازمان د راپور پر اساس، د ځان نه ساتنې (ژغورنې) له ناروغی سره په سلو کې ۳.۴ سلنه خلک لاس او گريوان دي.

په افريقا او اروپا کې، په ټيټه کچه يعنې په سلو کې ۲.۹ سلنه او په امريکا کې، په لوړه سطحه يعنې په سلو کې ٦.۲ سلنه د دغې ناروغی له ډولونو څخه موجود دي. نا ارامي يوه د رواني ستونزو له جملې څخه ده، چې کولای شي د انسانانو ژوند خراب او معلوليت رامنځته کړي.

يو نړيوال سازمان راپور ورکوي چې په نړۍ کې له سلو ۷.۵ سلنه خلک د نا ارامی (ناراحتی) له ناروغی څخه ځورېږي. د نا ارامی ناروغي په کمه اندازه په سلو کې ٦.۹ سلنه په شرقي مديترانه يي ساحه کې او په لوړه اندازه په سلو کې ۷.۹ سلنه په افريقا کې شته ده.

د روان نا ارامي کولی شي چې کورنۍ اړيکې، ټولنيز او کسبي اشخاص تر خپل تاثير لاندې راولي. دغه مسئله تر دې حده اهميت پيدا کوي چې د دې نشتون په ډېرو ټولنو کې د معلوليت زياتوالی رامنځته کوي او معلولو اشخاصو ته ډېرې رواني ناروغی پيدا کوي او همدارنگه د بهداشت نړيوال سازمان راپور ورکوي چې له هرو څلورو کسانو يو کس بايد د ژوندانه په بهير کې حد اقل په نا ارامی او يا هم په يوه رواني ناروغی تجربه کوي او همدارنگه د ځينو راپورونو له مخې په نړۍ کې له ۴۵۰ میلیونو څخه زيات کسان په نا ارامی او يا له يوې رواني ناروغی سره لاس او گرېوان دي او دې ته هم بايد متوجه اوسو چې له دوی يو شمير محدود کسان معلوله کيږي.

**۲- د عمر په بهير کې د ژوند له ملگري سره اړيکه**

د ښو اړيکو اعتياد د عمر په بهير کې د ژوند له ملگري سره د يو شمير افرادو مطرح کېدل ښه دليل دی. بهتره رواني سلامتيا، د شعريه عروق ـ زړه ناروغی په کمه اندازه، په زياته اندازه فزيکي فعاليتونه، مناسبه غذا هغه دلايل دي چې دغه پلټنه يې تشريح او توضيع کوي.

**۳- د روان سلامتيا**

د روان سلامتيا د حيرانوونکې سلامتيا او جوړښت په مانا سره راځي، چې ارواپوهنه بلل کېږي. دا د دې سبب کېږي چې يو شخص وغواړي چې يو ښه عمل کوونکی، ذهني (مفکوروي) او ښه بدني و اوسي، څو بل چا ته د لاس غځېدل ترک او پرېږدي.

## ټاکنو خپلواک کمېسيون: د ولسمشريزو ټاکنو د نومليکنې لپاره اتو ولايتونو ته حساس مواد لېږدول شوي دي




د ټاکنو خپلواک کمېسيون ويلي، د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د رايې ورکوونکو د نومليکنې حساس مواد اتو ولايتونو ته لېږل شوي دي.

د دغه کمېسيون د وياند دفتر سرپرست ذبيح‌الله سادات ازادي راډيو ته ويلي، په دغو ولايتونو کې ټاکنيز حساس مواد يا هېڅ نه‌وو او يا که وو هم، خو د رايې ورکوونکو د نوم ثبتولو لپاره کافي نه وو.

نوموړي زياته کړې: «له امنيتي اړخه هېڅ اندېښنه نشته، امنيتي بنسټونو ډاډ راکړی چې د حساسو او غير حساسو موادو لېږد د اتو ولايتونو ولسواليو ته پيل شوی او ادامه لري چې د جوزا په ۱۸مه به تقويتي نومليکنه پيل کړو».

دغه کمېسيون په ۲٦ ولايتونو کې د جمهوري رياست د ټاکنو لپاره د رای ورکوونکو د نومليکلو په خاطر په هغو حساسو ټاکنيزو موادو بسنه کړې، چې د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د رای ورکوونکو د ولسي جرگې په ټاکنو کې کارېدلي وو.

پکتيا، ميدان وردگ، پروان، پنجشېر، غزني، خوست، ننگرهار او نورستان هغه ولايتونه دي، چې ټاکنيز حساس او غير حساس مواد ورلېږل شوي دي.

په دغو حساسو ټاکنيزو موادو کې د رای ورکوونکو د نوم ثبتولو پاڼې، سټېکر، محافظتي کڅوړې، رنگ، د رايو صندوقونه، غرفې او قرطاسيه شامل دي.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې د نومليکنې لړۍ د جوزا په ۱۸مه پيل او د سرطان د مياشتې تر لومړۍ نېټې پورې دوام وکړي.

دغه کمېسيون پرېکړه کړې چې د راتلونکو ټاکنو لپاره په ټول هېواد کې د نومليکنې ۴۵۸ مرکزونه پرانيزي، چې له دې جملې ۲۷۴يې غزني ولايت ته په پام کې نيول شوي دي.

په دغه پروسه کې هغه کسان چې هېواد ته راستانه شوي، قانوني عمر ته رسېدلي او يا د ولسي جرگې په ټاکنو کې له نومليکنې پاتې شوي، نومليکنه کولای شي.

بلخوا د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ اجرايوي رييس يوسف رشيد ويلي، په غزني ولايت کې د ناامنيو د راپورونو له مخې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون نه شي کولای چې په ډېری ولسواليو کې د نوم ثبتولو مرکزونه پرانيزي.

هغه زياته کړې: «۲۵۰۰ مرکزونه تړل شوي، کومې سيمې چې خلک پکې نومليکنه کوي، بايد روښانه شي او بايد ويې لرو. بله دا چې د ځينو ولسواليو اداره کله د دولت او کله د مخالفينو په واک کې وي او هغه ولسوالی چې وروسته د امنيتي ځواکونو لاس ته ورغلې، د دوی لپاره څه پروگرام لري؟ په ټوله کې د دوی په کارونو کې د پروگرام نشتوالی وينم، د حساسو موادو خونديتوب بل جدي بحث دی».

## يونيسف: په افغانستان کې پر ښوونځيو بريدونه درې برابره ډېر شوي دي



د ماشومانو لپاره د ملگرو ملتونو د ملاتړ نړيوالې ادارې يا «يونيسف» ويلي، په افغانستان کې په تېرو دوو کلونو کې پر ښوونځو بريدونه درې برابره ډېر شوي دي.

يونيسف ويلي، د دوی د راپور له مخې په تېر ۲۰۱۸ او ۲۰۱۷ ز کلونو کې په افغانستان کې پر ښوونځيو ۱۹۲ بريدونه شوي، په داسې حال چې په ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ ز کلونو کې دغه شمېره ٦۸ وه.

د يونيسف اجرايوي مديرې هنريتا فور رويټرز خبري اژانس ته ويلي: «په افغانستان کې د زده کړو بهير له جگړو او تاوتريخوالي سره مخ دی. پر ښوونځيو بې مانا بريدونه، د ښوونکو وژل، وهل او اختطاف کول او د ښوونې او روزنې پر وړاندې نور گواښونه هغه څه دي، چې د زده کړو په اړه يې د افغان ماشومانو پوره نسل له ناهيلۍ سره مخ کړی دی».

يادې اداري همدارنگه ويلي چې په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې په ټول افغانستان کې د جگړو او ناامنيو له امله، زر ښوونځي تړل شوي چې له امله يې شاوخوا ۵۰۰ زره ماشومان له زده کړو بې برخې پاتې دي.

بلخوا پوهنې وزارت هم منې چې تېر کال په افغانستان کې پر ښوونځيو زيات بريدونه شوي دي.

دغه وزارت په ۲۰۱۸ ز کال پر ښوونځيو د بريدونو د زياتېدو يو لامل د ولسي جرگې د ټاکنو پر مهال له ښوونځيو څخه د رايو ورکوونکو د مرکزونو په توگه استفاده يادوي.

د دغه وزارت وياندې نوريې نضهت امريکا غږ ته ويلي، چې تر دې مهاله ۴۰۰ ښوونځي د ناامنيو له امله د زده کوونکو پر مخ تړل شوي دي.

نوموړې زياته کړې: «پر ښوونځيو د بريدونو د زياتوالي يو لامل پارلماني ټاکنې وې، چې په دې ټاکنو کې له ښوونځيو څخه د رايې ورکوونکو د مرکزونو په هدف استفاده کېده».

نضهت زياته کړې چې د پوهنې وزارت هڅه کړې، چې د ورته پېښو د مخنيوي لپاره ښوونځي له سياسي فعاليت څخه لرې پاتې شي.

د پوهنې وزارت د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې د ۴۰۰ ښوونځيو د بندېدو له امله سل زره زده کوونکي له زده کړو څخه محروم شوي دي.

د معلوماتو له مخې، دا مهال په ټول هېواد کې ۳.۷ میلیونه افغان ماشومان د جگړو او ناامنيو، فقر او ځينو نورو لاملونو له امله له زده کړو څخه بې برخې دي.

مسير ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
اېډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
ليکوالان: اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
گرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer

New Vision, New Journey

Daily






چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي اتمه | د ۲۰۱۹ د مي ۲۹مه | دربیم کال | ۳۸۲یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

چهارشنبه ۱۳۹۸/۳/۸

د سهار اذان ۰۳:۰۱ د ماښام اذان ۰۷:۰۲

رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۲ | ۳۸ | ۳۷ | ٤۰ | ۳٤ |
| ۱۵ | ۱۸ | ۲۰ | ۲۲ | ۲٤ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۱ | لمر ختل ۰٤:٤۳ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیگر ۰۳:۳۷ | ماښام ۰۷:۰۲ | ماخوستن ۰۸:٤۱

## نړۍ




## د بښنې نړیوال سازمان: پاکستان دې ژر تر ژره د پښتون ژغورنې غورځنگ پر غړو د برید څېړنه وکړي




د بښنې نړیوال سازمان له پاکستانه غوښتي، چې ژر تر ژر دې په شمالي وزیرستان کې د دریو عامو خلکو د وژل کېدو د قضیې په تړاو د خپلواکو او اغېزمنو څېړنو امر وکړي.

د بښنې په نړیوال سازمان کې د جنوبي اسیا د څانگې څېړونکې رابعې محمود ویلي، که دا راپورونه سم وي چې د پاکستان پوځ لاریون کوونکي په غیرقانوني توگه وژلي دي، دا له نړیوالو قوانینو څخه جدي سرغړونه ده.

د دغه سازمان په اعلامیه کې همدرانگه ویل شوي، چې د نړیوالو قوانینو له مخې د یو هېواد امنیتي ځواکونه یوازې په هغه صورت کې له وژونکې قوې څخه کار اخیستلی شي، کله چې د یو چا د ژوند د بچ کولو لپاره شدیده اړتیا وي.

د اعلامیې په بله برخه کې لیکل شوي: «هغوی چې له اندازې څخه د زیاتې قوې نه یې په غیرقانوني توگه کار اخیستی، باید په ازادو محاکمو کې ورسره حساب- کتاب او عدالت ته وسپارل شي».

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې وړاندې د پښتون ژغورنې غورځنگ دوو مشرانو علي وزیر او محسن داوړ د شمالي وزیرستان د خړ کمر په سیمه کې د یوې ډلې مشرې کوله، چې غوښتل یې په یوه لاریون کې برخه واخلي، خو د پاکستان پوځ پرې ډزې کړې او لسگونو کسانو ته یې مرگ ژوبله اړولې ده.

په دغه برید کې محسن داوړ هم سر سري ژوبل شوی او علي وزیر د پاکستان له پوځ سره بندي دی. له یادې پېښې وروسته د پښتون ژغورنې غورځنگ او د پاکستان پوځ بېلابېل نظرونه درلودل. پوځ ویلي چې د غورځنگ مبارزینو پر یوې امنیتي پوستې برید کړی او لومړی ډزې هم د پي ټي ایم غړیو کړې دي، خو پي ټي ایم بیا د پاکستاني پوځ دغه ادعاوې رد کړې او ویلي یې دي چې د هغوی ټول غړي بې وسلې وو او هېڅ ډزې یې نه دي کړې.

## په عراق کې یوې محکمې د داعش دوه نور فرانسوي جنگیالي هم پر اعدام محکوم کړي دي

په عراق کې یوې محکمې د داعش دوو نورو فرانسوي جنگیالیو ته هم د اعدام سزا واوروله.

دغه دوه فرانسوي جنگیالي پر دې تورن دي، چې د داعش په لیکو کې په عراق او سوریه کې جنگېدلي دي. چارواکو ویلي چې دغه دوه جنگیالي براهیم نجارا او کرام الهرچاوي نومیږي او عمرونه یې ۳۰ کاله ښودل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې عراق تر دې مخکې څلور نور فرانسویان هم په همدغه تور پر مرگ محکوم کړي وو. دوی د جنورۍ په میاشت کې په سوریه کې ونیول شول او د




تېرې جنورۍ په میاشت کې عراق ته ولېږدول شول، څو محاکمه شي.

په همدې حال کې د فرانسې د بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې پر اعدام محکوم شویو فرانسویانو ته به حقوقي خدمتونه برابر کړي.

محکوم شوي کسان یوه میاشت لري چې د محکمې د پرېکړې پر ضد اعتراض وکړي. د فرانسې د خبري اژانس د راپور په اساس، فرانسه د داعش لیکو ته ورغلیو فرانسویانو ته سزا غواړي، خو د اعدام له سزا سره مخالفه ده.

عراقي چارواکو ویلي، د ۲۰۱۸ ز کال له پیل راهیسې یې ۵۰۰ بهرني جنگیالي له داعش سره د تړاو په تور محکوم کړي دي. په دغو جنگیالیو کې یې ځینې په مرگ او ځینې یې زندان ته لېږل شوي دي، خو لا یې یو هم اعدام شوی نه دی.

## اعلام تعطیلی ولسی جرگه تا بعد از عید با مخالفت برخی اعضای این جرگه رو به رو شده است



هیئت اجرایی ولسی جرگه، نشست‌های این جرگه را تا بعد از عید فطر تعطیل اعلام کرد؛ اما برخی اعضای جرگه، این اقدام را غیرقانونی خوانده و گفتند که به نشست‌های جرگه ادامه می‌دهند.

بعد از گشایش دور هفدهم تقنینی شورای ملی در ۲۸ ثور، در دور دوم انتخابات ریاست ولسی جرگه برای پست ریاست این جرگه انتخابات شد؛ اما روی نتایج آن اختلاف میان اعضای جرگه به وجود آمد که تاحال این جرگه در یازده نشست عمومی، موفق به حل این اختلاف نشده است.

سرانجام دیروز هیئت اجرایی ولسی جرگه اعلام کرده‌است که نشست‌های جرگه، تا پایان رخصتی‌های عید سعید فطر تعطیل می‌باشد. هیئت یادشده، دیروز برای مدیریت جرگه مؤظف شده است.


رئیس عبدالخالق نماینده مردم بلخ، بعد از ختم نشست دیروز ولسی جرگه که به رسانه ها اجازه پوشش آن داده نشده بود، در صحبت با رسانه‌ها گفت: «در یک انتخابات علنی که از سوی هیئت اجرایی به راه انداخته شد، فیصله به عمل آمد تا جرگه به دلیل اینکه شماری از اعضای جرگه به سفر حج عمره رفته اند و شماری دیگر به ولایات شان رفته اند، تا بعد از عید سعید فطر تعطیل می‌باشد».

اما سیزده عضو این جرگه به خبرنگاران گفتند که کسی حق تعطیل کردن نشست‌های جرگه را ندارد.

میرویس یاسینی نماینده مردم ننگرهار که در این جمع صحبت می کرد، گفت: «هیچ کسی حق تعطیل جرگه را ندارد، ما فردا(امروز) می آییم و نشست را برگزار می‌کنیم، تا زمانی که جرگه رئیس نداشته باشد، به اساس اصول نباید نشست تعطیل شود».

## ژونـــد


## ژوند خپله درته ښکلی کړئ!



کله چې ورځ پیلېږي، ستا لپاره یو ځل بیا د ژوند کولو چانس درکول کېږي، څو خپل ژوند له سره جوړ کړې. کله چې شپه راځي، دغه چانس دې له لاسه وځي. په خپل ذهن کې دغه تصویر مجسم کړئ:

د لمر وړانگې اسمان ته ځانگړې ښکلا ورکوي او وړانگې یې تر کړکیو زما کوټې ته را ننوځي او یوه ځانگړې فضا جوړوي. الوتونکي له خپلو ځالو را وځي او په خپلو خوږو نغمو سره زموږ د کور ټول شاوخوا ته یوه ځانگړې ښکلا ورکوي، چې د دغو ښکلو غږونو په اورېدو سره د انسان زړه له خوښیو پرواز کولو ته مجبورېږي. زه هم د طبیعت په شان له پوره انرژۍ سره د نن ورځې هرکلي ته تیاری نیسم. نن یوازې پر ځمکه د انسان د ژوند کولو وخت دی؛ همدا نن هغه ورځ ده چې پرون یې په تمه وې او دا اندېښنه درسره وه چې سبا به څه کېږي؟ او همدا نن دی چې سبا به یې په یاد راولې او ارمان به یې کوې. همدا نن ستا لپاره تېر او راتلونکی دی، اوس ستا خوښه چې څه ورسره کوې او څه ډول گټه ترې پورته کوې!!

## لیمو د وینې فشار منظموي



لیمو ډېرې گټې لري او ان د ډېرو گټو له امله ورته د پوره درملتون نوم هم ورکړل شوی دی.

۱- لیمو د هر ډول وایرسونو ضد دی؛ ځکه نو د زکام، له سترگو د اوښکو بهېدو او دې ته ورته ټولو ناروغیو مخه نیسي. لیمو د ویټامین سي زېرمه بلل کېږي چې د دې ډول ناروغیو اصلي درمل دي. که د زکام په حالت کې لیمو له گرمو اوبو او چایو سره وخوړل شي، گټور تمامېږي.

۲- لیمو د پښتورگو ډبره او خاوره له منځه وړي او هغه جراثیم وژني، چې د بولو په مجرا کې ژوند کوي.

۳- د بندونو د درد مخه نیسي او د روماتیزم په درملنه کې خورا گټور تمامېږي، له دې سره په څنگ کې اعصابو ته ارام ورکوي.

۴- که وخښل شي او یا پر پوستکي وموښل شي، حساسیت له منځه وړي.

۵- لیمو په خپل ترکیب کې د ویټامین سي او روټین (Rutin) مواد لري، چې د رگونو دېوالونه تقویه کوي.

٦ - هر سهار په یو گیلاس اوبو کې یوه قطره د لیمو اوبه څښل مو د جگر له ناروغیو ژغوري.

۷- د وینې فشار تنظیموي او که چېرې د وینې فشار لوړ شي، تر ټولو اسانه او چټک علاج یې ناروغ ته د لیمو جوس ورکول دي.

۸- دغه د لیمو استعمال په وجود کې د شکرې د ناروغۍ مخه نیسي.